مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

لیکوال : میرویس خان عبدالی
لیکونکی: قاسم باز

۲۰۲۶/۰۶/۱۴

# د ښاغلي سردار محمد داؤد خان په مشرۍ کې د افغانستان د پوهنې بهیر

دویمه او اخیرۍ برخه

**د اولسمشرۍ پیر**

**د 1352لمریز کال د «چنګاښ» میاشتي له 26 نېټې څخه!**

**په 1352ل کال کې !**

اتلس نوي کلیوال ښوونځي ورغول سول. نهه لمړني ښوونځي ورغول سول. په 23 کلیوالو ښوونځیو کې د یو ښوونکي ترڅنګ دویم ښوونکی هم د ښوونې په دنده وګمارل سو. نهویشت کلیوال ښوونځي په لمړنیو ښوونځیو واوښتل. په 20 کلیوالو ښوونځیو کې د یو ښوونکي ترڅنګ دویم ښوونکی هم د ښوونې په دنده وګمارل سو. د لمړي پړاو پراختیایي بودیجه و 3678304 افغانیو ته پورته سوه چې 3178304 افغانۍ د نویو ښوونځیو او هغو ښوونځیو لپاره چې چارې یې نیمګړي پاتې وې ځانګړې سوې او 500000 افغانۍ د لمړنیو ښوونځیو لپاره ځانګړې سوې.

په همدغه کال کې لاندې دورې پرانیستل سوې:

الف ـ لس منځني ښوونځی.

ب ـ اووه لیسې چې لدې ټولګې څخه دوې یې لیلیې وې. د مېرمنو د ریاست 11 روزنیزي او خبري غونډې وسوې لکه د ښځېنوو د مسایلو، ملي موضوعاتو، په ټولنیزو شېبو کې د ښځېنوو د چارچلند، په ټولنه کې د ښځېنوو د دندو، د ناوړه او ناسمو جامو او سنګار په اړوند نیوکو، د بې موخې او ناسمو بابونو د لمنځه وړلو لپاره د هڅو، د سرې میاشتي نړۍوالي ورځې، د روغتیا ورځې، بشر حقونو ورځې، د مور ورځ او مولود شریف د ورځې.

د «سواد حیاتي ملي اداره» که څه هم پخوا رامنځته سوې وه خو په نوي جمهوري نظام کې په بنسټیزه توګه رامنځته سوه او په چارو یې پیل وکړ، نوموړې اداري 108 کورسونه رامنځته کړل چې د 127 ښوونکو او سوپروایزرانو لخوا و 3500 زده کوونکو ته د ښوونې او روزنې چارې مخته وړل کېدې. د کابل پوهنتون لس تکره زدکړیالان په ژمینیو رخصتیو کې د درېو میاشتو لپاره امریکا ته د زدکړو لپاره لاړل او 109 نور زدکړیالان په تحصیلي بورسونو نورو دباندنیو هیوادونو ته واستول سول. د پوهنې وزارت 42 چارواکي او اړوندان «د فرهنګي اړیکو ټولنیز مدیریت» لخوا د غونډو او وېناوو د ګډون لپاره بېلابېلو هیوادونو ته واستول. د فیلوشپ او یونسکو بنسټ د ښوونیزو بورسونو له پراوونو څخه په ګټه اخیستني 19 تنه پوهنیزو او فرهنګي بنسټونو ته د نوموړي بنسټ لخوا ورو‌پېژندل سول. د پوهنتون ښوونکي او چارسمبالي له ښوونیزو بورسونو څخه په ګټه اخیستني بېلابېلو هیوادونو ته واستول سول، لکه 13 شوروي، اته امریکا، یو یوګوسلاویا، دوه بلغاریا، یو بیروت، څلور استرالیا، څلور مصر، یو هندوستان، درې ایران او شپږ المان ته...

په 1353ل کال کې!



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

د هیواد د پوهنې په برخه کې لاندې بدلونونه منځته راوستل سول:

**لمړی پړاو!**

۱_د تلپاتې لوستیوالي د خوندیتوب او د لمړني پړاو د چمتو ساتلو لپاره، فارغان د بدني ځواك د ساتلو او د دویمو زدکړو د څارنې لپاره، یا د حرفوي زدکړو کورسونه او یا د خپلواکې بوختیا د غوره کولو لپاره، لمړنی پړاو یې له شپږ کالونو څخه و اته کالونو ته پورته سو. 2_په ښوونځي کې د زدکړو لپاره د ماشومانو منګ له شپږ څخه تر اووه کالونو پورې غوره سو. 3_منځنی پړاو وویشل سو چې د اووم او اتم ټولګي یې په لمړي پړاو کې ورډېر کړل. 4_د لمړي پړاو د اووه او اته له اړوند مضامینو پرته محیطي او حرفوي مالومات د نظري او عملي کار له لیدلوري په ښوونیز نصاب کې ورډېر سول، ترڅو پوهه ترلاسه کول د کیفیت له اړخه پورته سي. 5_د لمړني پړاو فارغانو به د شرایطو سره سم د اړتیا لمخې د قوای بشري د مدیریت په لید د دویمو تعلیماتو ازموینه په کانکور کې ورکوالای. 6_هغه شمېر زده کوونکي چې د کانکور په ازموینه کې برېالي نه سول، د اړتیا لمخې ځینو د لنډې مودې په حرفوي کورسونو کې ګډون وکړ او پاتې نور په خپلواك کار بوخت سول، دا دواړه پوړه ارزښتمن کارګر چې نیم لوستي ماهر او یا بشپړ لوستي ماهر ول رامنځته سول...

**دویم پړاو!**

۱ ـ لمړی پړاو له درېو کالونو څخه و څلور کالونو ته پورته سو. 2_د لېسې روستي (12) ټولګي د ساینس او اجتماعیاتو د څانګو د چمتووالي لپاره په پام کې ونیول سول. 3_د قوای بشري له لیده د هیواد د اړتیاوو د لیري کولو لپاره یو شمېر ټولیزې لېسې تر څېړنو او څېړلو روسته د مسلکي ښوونځیو سره جوګه سوې. 4_د مسلکي ښوونځیو دویم پړاو یې څلور کالونه په پام کې ونیوی چې ددغه څلور کالن پړاو پروګرامونه په مسلکي رشتو کې ډېر او لږ کېدای سول.

[...]د دویم پړاو (ثانوي دورې) فارغان به د کانکور له ازموینې څخه روسته پر دوو برخو وویشل سول چې یو شمېر به یې د لوړو زدکړو لپاره په پوهنتون کې ګډون کوالای او پاتې نور به یې په «تعلیم و تربیه» ځای پرځای کېدالای. د مسلکي ښوونځیو ډېرئ فارغان د کانکور له ازموینې ورکولو روسته په مسلکي پوهنځیو کې په زدکړو بوخت سول او پاتې نور په کار بوخت سول.

د فراه په ولایت کې د 300 زده کوونکو لپاره د کرهنې لېسه پرانیستل سوه. د 700 زده کوونکو لپاره د پلازمېنې کابل پولتخنیك ورغول سو چې له نهم ټولګي څخه د پنځوس زده کوونکو لپاره په نوموړي انستیټوت کې د شپې تخنیکي کورسونه رامنځته سول، د انجینرۍ د مرستیال روزنې د انستیټوت د 14 سویې برابر بنسټ کېښېنودل سو. د هنر او ملي موسیقۍ د ودې لپاره د موزیك لېسه رامنځته سوه. 90 کلیوالي او 25 لمړني ښوونځي پرانیستل سول. 97 کلیوالي ښوونځي په لمړنیو ښوونځیو واوښتل. په 116 کلیوالي ښوونځیو کې د یو ښوونکي ترڅنګ دویم ښوونکی هم وګمارل سو. د 25 کلیوالو ښوونځیو د دوو ښوونکو ترڅنګ درېیم ښوونکی هم وګمارل سو. د نالوستو غټانو لپاره د پلازمېنې کابل ښار په حوزو کې 190، په بغلان کې 41، او په کوهدامن کې 34 کورسونه رامنځته سول چې پکښې «د قرائت کتاب»، «حساب»، «د ښوونکي لپارښود» او «د کار کتاب» تدریس کېدل. په همدغه کال کې، په کابل پوهنتون کې له 639 کورنیو او دباندنیو ښوونکو څخه 7798 زدکړیالانو زدکړې کولې چې 742 پکښې ښځېنه وې...

په 1354ل کال کې!

294لمړني ښوونځي چې تر شپږم ټولګي پورې ول او 33 کلیوال ښوونځي، اتم ټولګي ته پورته سول چې اووم ټولګی په همدغه کال رامنځته ته سو. نهه منځني ښوونځي په لمړنیو ښوونځیو واوښتل او یو شمېر لېسې په مسلکي ښوونځیو واوښتې. په پلازمېنه کابل او ولایتونو کې 12 مسلکي حرفوي کورسونه رامنځته سول. د ثانوي تدریساتو ریاست لخوا د باصلاحیته کمېټې تر مشرۍ لاندې د اتم ټولګي له فارغانو څخه د کانکور ازموینه اخیستل کېده او له هغو زده کوونکو څخه چې له اتم ټولګي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

څخه فارغ سوي ول خو تېرکال یا سږکال د کانکور په ازموینه کې بریالي سوي نه ول یوځل بیا د کانکور په ازموینه کې برخه ورکړل سوه.
د ښوونکو د بدني روزنې په ځانګه کې د تعلیمي سویې د پورته کولو لپاره د بدني روزنې انستیتوت د دیارلس او څوارلس ټولګې په کچه رامنځته سو چې له پلازمېنې او ولایتونو څخه 90 نرینه او ښځینه، نهاري او لیلیه زده کوونکو په زدکړو پیل وکړ. د لوړو زدکړو لپاره په بېلابېلو ځانګو کې، شپږ تنه انګلستان، لس تنه امریکا، اتلس تنه ایران، دوولس تنه هندوستان، اتویشت تنه المان، پنځه تنه شوروي، یو تن د یونسکو په مالي مرسته او یو تن د ملګرو ملتونو د تعلیمي بورسونو پرمټ دباندینیو هیوادونو ته واستول سول.
د همدغه کال په تېرېدو د پوهنې نوی پلان د پلي کېدو لپاره په پام کې ونیول سو چې لاندې پنځلس مادې یې درلودې !
۱ ـ پر ټولو زدکړې کول خامخایي دي .
۲ ـ د پوهنې مرکزي سیستم .
۳ ـ اقتصادي پرمختګ .
۴ ـ په ښوونه او روزنه کې ټولګي رغول .
۵ ـ ښوونیز نصاب .
۶ ـ د ښوونکو روزنه .
۷ ـ د ښوونیزو توکو او ښوونیزو پډیو چمتو کول .
۸ ـ د ژبو پرمختګ او پراختیا .
۹ـ ارزونه.
۱۰ ـ د لوست زده کولو ښوونه .
۱۱ ـ اندولي پوهنه .
۱۲ ـ د بدني روزنې ښوونه .
۱۳ - د «ماورای ښوونځي» خوځښتونه او نصاب .
۱۴ - د ښوونکو او پلار مور ټولنه .
۱۵ - په بېلابېلو پړاوونو کې تلپاتې ښوونه او روزنه .
د ملي دندو د ترسره کولو او د ښځو د مقام د اوچتولو لپاره په نړیواله کچه د ښځو د ټولنې د یوې نه غوښېدونکې تصدۍ په توګه د غبرګولي له مباشتې څخه د افغانستان د ښځو ټولنه وپېژندل سوه او نوموړې تصدۍ د ټولنو او کمېټو تشکیل وګرځېده چې د خپلې لایحې سره سم یې د مشورتي حقوقي، تنویري، خیریه او هنري کمېټې رامنځته سوې...
په 1355ل کال کې !
د افغانستان د جمهوري دولت د اساسي قانون له نافذېدو روسته د حکومت په تشکیل کې یو نوی وزارت «د لوړو زدکړو وزارت» په نوم د جمهوررئیس تر منظورۍ روسته رامنځته سو چې د نوموړي وزارت تشکیلات منظور سول او په چارو ترسره کولو یې پیل وکړ، د نوموړو تشکیلاتو لمخې د کابل او ننګرهار پوهنتونونه د خپلو ټولو ځانګو سره د لوړو زدکړو وزارت اړوند سول او ددې ترڅنګ د ښوونکو د روزنې عالي انستیتوت، د صنعت اداري انستیتوت، د کرهنې د عالي تعلیماتو انستیتوت، د محاسبې عالي انستیتوت او د معلم د روزنې ریاست چې پخوا د پوهنې وزارت اړوند ول دخپل ټول پرسونل، تجهیزاتو او ودانیو سره «د لوړو زدکړو وزارت» اړوند سول.
د افغانستان د جمهوري دولت د اساسي قانون په لسمه ماده کې داسې لیکل سوي:«د لمړنیو تعلیماتو تامین او عاموالی اجباري، عمومي ثانوي تعلیمات، مسلکي او عالي تعلیمات ټول په وړیا توګه د عِلمي او فني کدرونو د روزنې او د خلکو د خدمت لپاره.». په همدغه کال کې د انجینرۍ پوهنځي د چارواکو د لپارښوونې پربنسټ، په پوهنځي کې 1066 نوو زدکړیالانو زدکړې پیل کړې. په کابل پوهنتون کې 75 دباندیني زدکړیالان په زدکړو بوخت ول. 35 محققین د عِلمي تحقیقاتو لپاره له


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

دوستو هیوادونو څخه کابل پوهنتون ته راغلل. په بلخ، هرات، هلمند، کندهار، غزني او ننګرهار کې د شپې لیسې رامنځته سوې ترڅو د مامورینو په تعلیمي کچه کې اوچتوالی راسي... 185 کلیوالي ښوونځي په لمړنیو ښوونځیو واوښتل، 1472 له شپږم ټولګي څخه د اتم ټولګي لمړنیو ښوونځیو ته واوښتل. د تېر کال د لمړني پړاو له 720000 زده کوونکو څخه په سږکال کې د زده کوونکو شمېر 807900 ته پورته سو.

د ښووني د ودې او نویو ښوونیزو پدیو پېژندلو لپاره د 51663 ښوونکو، سرښوونکو او د لمړنیو مفتیشینو لپاره ښوونیز او روزنیز سیمینارونه رامنځته سول او له اتمو ټولګیو څخه 3411 تنه فارغانو په مسلکي لیسو کې زدکړې پیل کړې. په پلازمېنه کابل کې د لابراتوارونو د مسلکي پرسونل لپاره دوولس حرفوي کورسونو رامنځته سول. د محاسبې انستیتوت او د کرهنې ښووني انستیتوت پرانیستل سول. له دارالمعلمین څخه 1318 تنه د څوارلس او پنځلس ټولګیو څخه فارغ سول چې 276 یکښې ښځینه وې د وړکتون لپاره د ښوونکو د روزنې پروګرام له دیارلس او څوارلس ټولګیو څخه رامنځته او یو پړاو بشپړ پروګرام ورغول سو. د ښوونکو د روزنې په اکاډمۍ کې د دولسم ټولګیو له فارغانو څخه 75 په ښوونه بوخت سول او یوڅه شمېر لیسانس ښوونکي د روزنې د مرکز او ولایتونو څخه په «تربیه معلم» اکاډمۍ کې د مافوق لیسانس په کورسونو کې د کورنیو او دباندنیو ښوونکو ترڅارنې لاندې په زدکړو بوخت سول. د یونسکو د سلاکارانو او ښوونکو لخوا د وړکتون پروګرام چمتو سو او د «پروګرامها» په نوم یو نوی مدیریت د تربیه معلم د ښوونیزو پروګرامونو د ارزونې لپاره رامنځته سو. دارالحفاظونه له اووم ټولګي څخه و اتم ټولګي ته پورته سول. دغه مهال په پلازمېنه کابل کې یوولس وړکتونونه چې 2296 ماشومان یکښې له سهار څخه تر مازیګر پورې ترڅارنې لاندې نیول کېدل. په ولایتونو کې د وړکتونونو شمېر څوارلس ته ورسېد چې تر 1000 ډېر ماشومان یکښې ول. په وړکتونونو کې د شیدې خوړونکو ماشومانو د ښوونکو شمېر 200 وو.په 1356ل کال کې !

د ښوونیزو ادارو د احصایي لمخې د هیواد په کچه! 1668 کلیوالي ښوونځیو، 1161 لمړنیو خپلواک ښوونځیو، 265 منځیو خپلواک ښوونځیو، 180 لیسو، 9 دارالمعلمین، 20 دِیني ښوونځیو، 3 میخانیکي او 19 مسلکي ښوونځیو شتون درلود...

په 1357ل کال کې !

د غویي مېاشتې د اتمې ورځې په سهار، جُمعه، شاوخوا اووه بجې د افغانستان جمهوریت د دباندیني ښکېلاکګر زبرځواک په بېدرېغه او هر اړخیز ملاتړ د یوې سیاسي او نظامي پردیپالي ډلې لخوا نسکور سو چې په افغانستان کې د جمهوري حکومت بنسټ ایښودونکی او د افغانستان لمړی جمهوررئیس ښاغلی محمد داؤد دخپلې نژدې ټولې کورنۍ، ژمنو وزیرانو او سلاکارانو، ملاتړو پوځي او ملکي لوړپوړو جنرالانو، افسرانو، سرتېرو او چارواکو سره په شهادت ورسېدی.

ښاغلي سردار محمد داؤد خانّ د 1357ل کال د «غویي» مېاشتې تر 8 نېټې پورې! څلور کالونه، نهه مېاشتې او دوولس ورځې د افغانستان اولسمشر (جمهوررئیس) په توګه دنده مخته وړې.

ربّ العلمین جل جلاله دې د شهادت درجې اوچتې کړي، ویاړلي یادونه دې تلپاتي وي

اللّٰهم آمین



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ